دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

شهادت

اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

PROPERTY OF ACKU

درس قرآن

الله پاک تاسې ته امر کوي چې امانتونه خپلو خاوندانو ته وسپارئ. او چې کله مو د خلکو په مینځ کې پریکړه او حکم کاوو، نو باید په عدل او انصاف سره یې وکړئ. بیشکه الله پاک تاسې ته ډېر ښه نصیحت کوي. او الله پاک ښه اوریدونکې او ښه لیدونکې دی. (النساء: ۵۸)

درس حدیث

از نعمان بن بشیر (رضی الله عنهما) روایت است که:
رسول الله (صلی الله علیه وسلم) فرمود: مثل مسلمانها در محبت و رحمت و مهربانی شان به همدیگر مانند یک جسد است، که هرگاه عضوی از آن بدرد آید، دیگر اعضای جسد در تب و بیدار خوابی با آن همراهی می کنند. (متفق علیه)

شهادت پنځم کال، ۴۵ مه ګڼه، پرله پسې ۲۴۴ مه ګڼه سه شنبه ۱۳۹۲ هـ ل د کب ۲۷ مه د ۱۴۳۵ هـ ق د جمادی الاول ۱۲ مه د۲۰۱۴ م د مارچ ۱۸ مه

ولسي جرګه د لومړي مرستیال او منشي په ټاکلو کې پاتې راغله

کابل، رسنی:
د افغانستان ولسي جرګې غړي د کب په ۲۶ مه نېټه د خپل لومړي مرستیال او منشي د ټاکلو لپاره له دوو ځلو ټاکنو وروسته بیاهم هوکړې ته ونه رسیدل.
غلام سرور حسین ناصري، سرور قایز او ګل پادشاه مجیدي د جرګې د لومړي مرستیال او منشي د څوکیو د ترلاسه کولو لپاره ځانونه نوماند کړي و، چې ګل پادشاه مجیدي د ۸۵ مثبتو رایو، سرور د ۲۹ مثبتو رایو او غلام حسین ناصري د ۳۳ مثبتو رایو په ترلاسه کولو سره ونتوانیدل نوموړي څوکی ترلاسه کړي.
همداشان څارنوال عبدلروف، ذکیه سنګین او سیمین بارکزی د منشي ځای لپاره سیالی وکړې، چې یوه هم یاده څوکې ترلاسه نشو کړای. عبدالروف ۷۹ مثبتې رایې، ذکیه سنګین ۳۲ مثبتې رایې او سیمین بارکزی ۲۵ مثبتې رایې ترلاسه کړې.
د ولسي جرګې د پرون ورځې نصاب ۱۹۰ تنه و، چې د قانون له مخې د اداري هیات هر نوماند باید د جرګې د تائید ۹۵ رایې ترلاسه کړي.
د ولسي جرګې د داخلي وظایفو د قانون له مخې هر کله چې د اداري هیات نوماند پنځوس جمعه یو رایې پوره نه کړي، نو بیا د دوو هغو نوماندانو ترمنځ چې ډیرې رایې اخیستې وي ټاکنې کیږي.
له همدې امله د لومړي مرستیال د څوکې د ترلاسه کولو لپاره د ګل پادشاه مجیدي او غلام حسین ترمنځ او د منشي د څوکی ...

(۴ مخ)

جاپان بیش از ۱,۷ میلیون دالر به افغانستان کمک کرد

کابل، رسانه ها:
جاپان، بیش از ۱.۷ میلیون دالر امریکایی را برای عملی شدن ۱۳ پروژه انکشافی جدید افغانستان کمک کرد که از مزایای آن، یکصد هزار تن مستفید خواهند شد.
قراردادهای این پروژه ها، بروز دوشنبه ۲۶ حوت میان هیروشی تاکاهاشی (Hiroshi Takahashi) سفیر جاپان در کابل و رؤسای ۱۱ موسسه خصوصی به امضا رسید.
سفیر جاپان حین عقد قراردادها گفت که این پروژه ها، از کمک بلاعوض مردم جاپان بوده و طی یکسال آینده عملی میشود.
وی افزود که این کمک در بخش های معارف، صحت، انکشاف روستایی، ماین پاکی و ...

(ص، ۴)

کریمیا له روسیې سره د یوځای کېدو اعلان وکړ

د کریمیا پارلمان له روسیې سره د یو ځای کیدو غوښتنه وکړه. دغه اقدام وروسته له هغې تر سره کیږي چې د یکشنبې په ورځ د تر سره شوي ټولپوښتنې پایلې ښیي چې ۹۶،۸ سلنه د کریمیا اوسیدونکي له اوکراین څخه بیلتون غواړي.
د دوشنبې په سهار د کریمیا ټاکنیزو چارواکو د تور سمندرګي په دغه نیمه ټاپو کې د تر سره شوي ریفرنډم یا ټولپوښتنې رسمي پایلې اعلان کړې. د ټولپښتني کمېسیون د مشر میخایل مالېښف، د معلوماتو له مخې ۹۶،۸ سلنه د کریمیا اوسیدونکو د روسیې له فیدراسیون سره د یو ځای کیدو په پلوئ رایې ور کړې دي. اټکل شوې ده چې ۸۳ سلنو خلکو په رایې اچونه کې ګډون کړی دی، دا په داسې حال کې ده چې ډیری مخالفینو د دغه ګام د تحریمولو له پاره غږ کړی وو.
د دغه رسمي پایلې تر اعلانیدو وروسته دا خبره په ډاګه شوه چې د کریمیا پارلمان له ...

(۴ مخ)

هلمند کې برتانوي پوځیان پر یوې اډې پورې محدود شول

کابل، رسنی:
په پام کې ده چې د روان کال تر پایه برتانوي ځواکونه هم له افغانستانه ووځي.
په افغانستان کې برتانوي ځواکونو ویلي، چې د هلمند ولایت پر یوې اډې پورې یې پوځي حضور محدود کړی دی او نورې اډې یې افغان ځواکونو ته سپارلې دي.
برتانوي ځواکونو له څو کلونو راهیسې په سوېلي هلمند ولایت کې مېشت وو.
په پام کې ده چې برتانوي ځواکونه هم د ناټو ځواکونو د مهال وېش له مخې د روان کال تر پایه له افغانستانه ووځي.
برتانوي ځواکونو ویلي، چې په وروستیو کې یې خپلې دې اډې تړلې دي، او ...

(۴ مخ)

ضرورت تجدید نظر بر قانون اساسی

فدامحمد فایض

«دولت افغانستان هم در مجموع در دوازده سال گذشته همان سیاست یکنواخت را تعقیب میکند، در حالی که باید در پایان هر سال سیاستها و اجراآت یک سال گذشته خود را ارزیابی میکرد و نقاط ضعف و قوت را از هم جدا میساخت، نقاط قوت را تقویت نموده و بر نقاط ضعف تجدید نظر میکرد، حتی افراد مورد ارزیابی قرار میگرفت و در مورد شان تجدید نظر میکرد؛ ولی متأسفانه دولت خود دستها و پاهای خود را توسط زنجیرهای مصلحت بست و همین سیاست ناکام را ادامه داد.»

(ص، ۲)

امریکا و روسیه عمده ترین صادرکننده گان و هند بزرگترین وارد کنندهء اسلحه در جهان

تحقیقات یک موسسهء سویدنی نشان می دهد که هند از سال ۲۰۰۹ الی ۲۰۱۳ میلای ۱۴ درصد اسلحه را در سطح جهان خریداری کرده است که مقدار آن نسبت به رقبایش چین و پاکستان که هرکدام با خریداری پنج درصد، دومین و سومین وارد کنندهء اسلحه در جهان به شمار می روند، سه بار بیشتر بوده است.
سیمون وزیمن (Siemon Wezeman) محقق انستیتوت تحقیقات صلح بین المللی استوکهلم (SIPRI) ، به آژانس خبری دی. پی. ای آلمان گفته است، عربستان سعودی و امارات متحدهء عرب از جملهء پنج کشوری اند که بیشترین مقدار اسلحه را در جهان وارد می کنند که بیشترین سرمایه گذاری را برای ترسانیدن کشور رقیب آن ها ایران نشان می دهد.
در تحقیقات انستیتوت (SIPRI) گفته شده است، ۵۵ کشور جهان اسلحه صادر می کنند. بین سال های ۲۰۰۹ و ۲۰۱۳ میلادی ایالات متحدهء امریکا و روسیه صادر کننده گان عمده اسلحه بوده، نصف اسلحهء جهان را تامین کرده اند.

(ص، ۴)

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

له اوازو تر حقایقو

د ۱۳۹۳ کال ولسمشریزو ټاکنو ته لږې شپې پاتې دي. د ولسمشرۍ انتخاباتي کمپاین هم په ۱۳۹۲ / ۱۱ / ۱۳ نېټه د دوو میاشتو له پاره پیل شوی چې د راتلونکي وري (حمل) تر دیارلسمې نېټې پورې به دوام کوي. ولسمشرۍ ته ولاړ نوماندان حق لري چې د قانون په چوکاټ کې په خپله گټه کمپاین وکړي. په دغه دوران کې کله ناکله په نامستقیمه توگه ډول ډول اوازې هم خپرېږي چې زیاتره یې حقیقت نه لري، داسې بربښي چې دغه اوازې د یوه خاص هدف له پاره ډیزاین کېږي؛ ځکه زیاتره هغه ټیمونه چې پر خپله بریا ډاډه نه وي هڅه کوي ځواکمن ټیمونه ددوی په خپل اند کمزوري کړي؛ یا دهغوی پلویانو ته داسې تأثر ورکړي چې ستاسې ټیم خو هغومره ډاډمن نه دی لکه څومره چې تاسې پرې ډاډه یاست، دغه ډول اوازې په حقیقت کې یو شمېر ځانگړې کړې د نورو په وړاندې د حربې په توگه کاروي؛ غواړي چې په دې توگه خپله کمزوري ددغسې اوازو په خپرولو سره پټه کړي او د نورو د قوت پرمخ د شک او تردید پر دې وغوړوي؛ خو دا مشهور متل دی چې لمر په دوو گوتو نه پټېږي.

د اصلاحاتو او همپالنې ټیم د هېواد له هغو قوتونو نه جوړ دی چې په ملت کې ریښې لري او دا حقیقت له هیچانه پټ نه دی، حزب اسلامي افغانستان، جمعیت اسلامي افغانستان او حزب وحدت اسلامي مردم افغانستان دا هغه قوتونه دي چې نوي د هېواد په سیاسي افق کې نه دي راڅرگند شوي؛ بلکې افغان ولس یې ډېر ښه پېژني او ددوی سیاسي، اعتقادي او اجتماعي ریښې ورته معلومې دي؛ نو ځکه خو لکه چې وایي:

آنچه عیان است؛ چه حاجت به بیان است.

د اصلاحاتو او همپالنې ټیم دې ته اړتیا نه لري چې د ځان غټ ښوونې هڅه وکړي یا پر خپل قوت دومره بې باوره وي چې وغواړي خپله کمزوري د بل په قوت کې پټه کړي، بلکې پر خپل قوت ډاډه دی، په ولس کې پر خپلو ریښو ډاډه دی او د لوی خدای (جل جلاله) په مرسته پر خپله بریا باوري دی؛ نو ځکه دا اوازې چې د اصلاحاتو او همپالنې ټیم دغه یا هغه ټیم ته د تېرېدو له پاره تیاری نیسي له اوازو وراخوا نور هېڅ هم نه دي، پاتې شوه د ارمان خبره، دا د ټولو مجاهدینو همیشنی ارمان دی؛ پرون یې هم ارمان و، نن یې هم ارمان دی او سبا ته به یې هم دا ارمان وي چې ټول مجاهدین پر یوه مرکز او یوه محور سره راټول شي او په دغه نامه او هغه نامه یې په منځ کې د بېلتون کرښې نه وي راکښل شوي؛ که نن هم دا کار تحقق ومومي مونږ یې هرکلی کوو که سباته وشي هم هرکلی یې کوو؛ دا د خیر کار دی او همیشه یې خیر بولو. دا مو هم هیله ده چې هغه ورونه چې په انتخاباتو کې یې د بري هېڅ چانس نه تر سترگو کېږي بلکې گټه به یې دهغه چا په ځولۍ کې ورلوېږي چې د مجاهدینو له ارمان سره هېڅ ډول همغږي نه لري او دې ته په تمه ناست دي چې که له دې لارې هغوی ته څه گټه ورسېږي پر خپلو دریځونو بیا کتنه وکړي ښایي دغسې ټیمونه دوی تشویق هم کړي چې پر خپلو دریځونو ټینگ پاتې شي؛ ځکه فکر کوي چې دغسې حالت دهغوی په گټه تمامیدای شي؛ خو دا پخپله په دغسې ټیمونو پورې اړه لري چې دا موضوع درک کړي.

فدامحمد فایض

ضرورت تجدید نظر بر قانون اساسی

بعد از سقوط حکومت طالبان در ۲۰۰۱ (۱۳۸۰) قوتهای غربی با عجلهٔ فراوان تصمیم گرفتند که خلای بمیان آمده در افغانستان را پُر کنند. بدیهی است تعجیل در چنین امر به خیر و مصلحت افغانها نبود. باید درین رابطه از عجله کار گرفته نمیشد بلکه به ملت افغانستان مجال داده میشد، تا با حوصله مندی و با توجه به اشتباهات گذشته یک نظام قابل قبول برای همهٔ ملت را بوجود می آوردند. اشتباه بزرگی که صورت گرفت و آن هم

عمداً صورت گرفت این بود که یک بخش ملت افغانستان را از نظام حذف کردند و نام آنرا «مخالفین مسلح» گذاشتند. معنای این حرف، این بود که باید آنها سلاح بردارند و با دولت جدیدالتشکیل افغانستان بجنگند، در حالی که دیگر ملت افغانستان به صلح نیاز داشت و به یک حکومت یا دولت فراگیر مطابق با ارزشهای عقیدتی و ملی خود نیاز داشت؛ ولی آنچنان که بعدها معلوم شد و حتی خود امریکاییها اعتراف کردند، ادامهٔ جنگ در افغانستان بود. طالبان و دیگر گروههایی که امروز آنانرا اپوزیسیون مسلح نام کرده اند از ۲۰۰۱ تا ۲۰۰۳ کاملاً آرام بودند و منتظر بودند که نظام جدید چه گامهایی بر میدارد؛ ولی در سال ۲۰۰۳ آنها را مجبور کردند که دوباره دست به سلاح برده، مخالفت مسلحانه را آغاز کنند؛ جنگ آغاز شد و روز تا روز شدت بیشتر کسب نمود و تمام زمینه های ساختن یک نظام جدید را که جوابگوی همه نیازمندیهای ملت افغان بوده باشد، یا از بین بردند و یا اینکه کم از کم تحدید نمودند. مخالفین هم بجز از جنگ راه دیگری نیافتند و دولت هم بنام دفاع از خود بجز از جنگ راه دیگری ندید. گرچه دولت بخاطر صلح تلاشهایی بخرج داد و تا اکنون هم ادامه میدهد؛ ولی راهی را که دولت بخاطر صلحٍ اتخاذ کرده بود نتیجه یی نداشت؛ بناءً ایجاب میکرد تا درین رابطه تجدید نظر صورت میگرفت، دولت باید علت عدم پیشرفت در امر صلح را ارزیابی میکرد تا مییافت که خلل در کجاست. از جریانات چندین سال گذشته به این نتیجه میرسیم که جنگ ادامه خواهد یافت؛ زیرا جنگ هم ضرورت امریکا و ناتوست و هم ضرورت کشورهای همسایه؛ ولی نفع آن، نه به دولت افغانستان میرسد و نه به مخالفین و ملت افغان در بین این آتش میسوزد.

دولت افغانستان هم در مجموع در دوازده سال گذشته همان سیاست یکنواخت را تعقیب میکند، در حالی که باید در پایان هر سال سیاستها و اجراآت یک سال گذشتهٔ خود را ارزیابی میکرد و نقاط ضعف و قوت را از هم جدا میساخت، نقاط قوت را تقویت نموده و بر نقاط ضعف تجدید نظر میکرد، حتی افراد مورد ارزیابی قرار میگرفت و در مورد شان تجدید نظر میکرد؛ ولی متأسفانه دولت خود دستها و پاهای خود را توسط زنجیرهای مصلحت بست و همین سیاست ناکام را ادامه داد.

آنچنان که دولت جدید با عجله و بدون درنظرداشت حقایق و واقعیتها و مصلحتهایی که بخیر افغانستان بود، ساخته شد، به همان ترتیب در ساختن قانون اساسی از عجله کار گرفته شد. نام نظام جدید را جمهوری اسلامی گذاشتند؛ ولی قانون اساسی معجونی از آرا و نظریات متفاوت بود، بخصوص در بخش اقتصاد کاملاً یک نظام اقتصاد غربی در کشور متعارف گردید که امروز ما زیانهای آن را شاهد هستیم. ملت بنام سکتور خصوصی به دست افرادی سپرده شد که امروز افغانستان به یک مرکز بزرگ اموال و امتعهٔ پر از تقلب مبدل گشته است، ادویه یی که از کشورهای

همسایه و کشورهای منطقه آورده میشود همه پر از تقلب است، از همین جهت مریضان و مریضداران ما همه روزه مجبور اند یا به هند یا به پاکستان بروند یا به هم کشورهای دیگر. اگر تا حدی شکایت از نداشتن پرسونل ورزیدهٔ طبی موجود است و یا شکایتی از ناحیهٔ نبود وسایل لازم؛ ولی شکایت عمده از نبود ادویهٔ مطمئن است. بهمین ترتیب اکثر چیزهای خوراکی از جمله روغن کاملاً غیر صحی و غیر معیاری است. اگر افغانستان یک کشور اسلامی است و نظام آن یک جمهوری اسلامی، پس چه نیازی وجود دارد که ما نظام اقتصادی اسلام را عمداً فراموش کنیم و بخاطر خوش ساختن غربیها تمام فرمایشات آنها را در قانون اساسی خود بپذیریم، هکذا موارد متعدد دیگر.

بدون شک قانون اساسی ما به یک بازنگری نیاز دارد و این نیاز در موارد متعدد وجود دارد؛ ولی این نیاز تنها امروز محسوس نیست، بلکه از روزی که این قانون ساخت شد؛ اما سوال اینجاست که چطور شد که رئیس جمهور امروز این نیاز را احساس میکند در حالی که اینک ما در آستانهٔ قریب الوقوع انتخابات ریاست جمهوری قرار داریم و بیش از سه هفته از فرصتی که رئیس جمهور در اختیار دارد نمانده است و درین مدت هم تمام توجه بسوی کمپاین انتخاباتی معطوف است. بدیهی است که رئیس جمهور این مهم را به دولت آیندهٔ افغانستان موکول نموده است، آیا بهتر نبودٍ که رئیس جمهور خود در فرصتی که قبلاً در اختیار داشت این کار را میکرد تا در حسنات دوران ریاست جمهوری اش حساب میشد؟ آیا چنین نیست که به بهانه تجدید نظر بر قانون اساسی راه را برای افرادی باز میکنند که باید در نظام آینده بحیث یک بازوی اساسی دولت در نظام مطرح باشند؟ گرچه دولت از یکسو تعهد میکند که در انتخابات آینده هیچنوع تقلب صورت نخواهد گرفت؛ ولی از سوی دیگر از همین حالا نشانه های مداخله و تقلب بچشم میخورد، اگر تمام اراکین دولت نباشد، اکثریت تام اراکین دولت مصروف هستند، گرچه این امر عام است و تنها یک نامزد را نمیتوان نشانه گرفت؛ ولی اگر دولت بحیث دولت رفع مسؤولیت میکرد وضع چنین نمیبود، تعجب است که قیادت کمیسیون محترم انتخابات اکنون درین رابطه هشدار میدهد.

قانون اساسی ما بدون شک مستلزم بازنگری است، باید دولت آیندهٔ افغانستان این کار را در اولویتهای کاری خود قرار دهد؛ ولی این تجدید نظر نباید چنان باشد که قانون راه را برای تأمین اهداف گروه خاصی یا فرد خاصی باز کند. اگر تجدید نظر در قانون اساسی صورت میگیرد، باید نظر گروههای مخالف هم درنظر گرفته شود تا زمینه برای ادامهٔ جنگ وجود نداشته باشد. تشویش بیشتر از این ناحیه است که شاید هدف این باشد که فقط نحوه نظام را بخاطر جابجایی افراد مورد نظر تغییر دهند.

✍ فروغگر

نړیوال او زمونږ د اولس هیلې

په دې خبرې باندې خو ټول پوهېږو او ته هم پوهېږې چې افغانستان، د تاریخ له دریو خورا خونړیو پړاوونو نه له تېرېدلو وروسته: لومړی امنیت او بیارغوني، بیارغوني او په همدغه لړ کې دلته دهغو بنسټیزو پروژو ته اړ و چې ددې اولس د هوسا ژوند ښه ضمانتونه له ځانه سره ولري..

که له هر چانه پوښتنه وکړې چې نړیواله ټولنه په ځانګړې توګه امریکا افغانستان ته له راتګه وروسته باید څه کړي وای؟

نو هغوی به په ځواب کې درته ووایي:

په خپله امریکایي پوځي او غیر پوځي چارواکو او همدارنګه د ناتو مهمو مشرانو د خپل حضور په لومړیو ورځو کې دا خبرې په شدت او خورا ټینګار سره تکرارولې چې:

«د روسانو له وتلو نه وروسته یعنې هغه مهال چې له افغانستانه ووتل، لویدیځ هېوادونه باید دا لویه اشتباه نه وه کړې چې دا هېواد یوازې پرېږدي.. ځکه ددوی دغه بې غوري افغانستان له دغسې سترو ناورینونو سره مخامخ کړ چې د څو کلونو په دوران کې، البته د روسانو پر ظلمونو سربیره د جګړې، بې عدالتۍ، لوږې، فقر دول، ډول ناروغیو، بې امنیو او سیاسي اختناق په اور کې سوځېده.. موږ ددې لپاره راغلي یو چې د افغانستان د خلکو اوښکې پاکې کړو هېواد کې بنسټیزې پروژې پلې کړو، دا زراعتي هېواد د زراعت په نوي ټکنالوژۍ او نوي تکنینونو سمبال کړو.»

تر دې وعدو وروسته کله چې د عمل وخت راغی، هم امریکا او هم غربي نړۍ، ګویا په ټولیزه کې ټولې یرغلګرې خواوې په خپلو ترجیحاتو کې د جګړې لاره ونیوله او په دې نورو برخو کې سرکونه ورغول شول: خو ناقص، پروژې پرانستل شوې: خو پر درغلیو او خیانتونو ولاړې پروژې چې بهرني مالکان به یې دلته داسې قراردیان پیدا کړي چې د «نصف لی و نصف لک» د معادلو له څخه د پروژې له پیل نه مخکې د پروژې د سر ته رسېدو بودجه په خپل منځ کې په عادلانه توګه داسې سره وویشي چې پروژې ته فقط د نامه په خاطر یو څه پاتې شي، وروستیو څېړنو دا وښووده چې ددغو پروژو ۹۵ سلنه بودجه بېرته امریکایانو او غربیانو خپلو هېوادونو ته وړې دي او دا معادله دهغو مرستندویو نړیوالو کانفرانسونو پر ملیاردونو ډالرو مرستو باندې هم تطبیق شوه چې د افغانستان د بیارغونې لپاره تخصص شوي وو..

د امنیتي قراردادي کمپنیو خو شمېر نه و معلوم حتی د بلک واټر د لنډغرانو معاشونه چې په میاشت کې ملیونونو ډالرو ته رسیده هم د افغانستان له هغو پیسو ورکول کېده چې نړیوالو د احسان په نامه د بېلا بېلو کانفرانسونو د ژمنو له مخې ورکړې وو..

زمونږ بله بدمرغي دا وه چې د کابینې ویزران هم ډیری پروتوکولي وزیران وو، ټاکل به ولسمشر: خو کله به چې پرچو کې کیناستل، سبا ته به د قراردادیانو په شان له یوې لورې سره قراردادي شوي و.

د کار په دوهم پړاو کې، اقتصاد، تجارت، بازار، کار او د کار پروژې مو هم د همدغو بهرنیو د حضور له لامله سخت زیانمن شول، د اروپا او په ټولیزه کې د غرب د تجارتي بازارونو دروازې زمونږ د هېواد د سوداګرو پرمخ وتړل شوې او د حریصو ګاونډیانو رحم و کرم ته یې پرېښودلو چې دغو ګاونډیانو داسې وترورلو چې فقط هډوکي راکې پاتې شول، نور څه حرام کړې که موږ ته پاتې شوې وي، د تحصیلاتو او زده کړو په برخه کې هذالقیاس دوی د خپلو استخباراتو وسیله دلته د خپلو سیمه ایزو او نړیوالو په ګټو پسې شول او زمونږ ملت یې تشې کاسې ته کینول. اوس پوښتنه داده چې د خلکو د توقع له مخې د امریکا له راتګ سره سم دلته باید د ملکرتوب، مرستو او ګډو همکاریو داسې یوې نقشې باندې کار پیلیدای چې دلته زه په لنډو ټکو کې اشاره ورته کوم:

په کار خو دا و:

* کله چې دوی زمونږ هېواد ته راغلي وو، نو د هغو ملیونونو مهاجرینو د بیا راستنېدو او هغوی ته د سرپناه جوړولو او کار په اړه اقدام کړی وای..

* بیا به یې زمونږ مواصلاتي لارې هغسې چې ښایي رغولې وای اوډکلي دپراختیا وزارت په همغړۍ سره یې کلي له مرکزونو سره تړلي او هلته یې د رغونې او بیارغونې هغسې پروژې رانستلې چې زمونږ هېوادوال ددې دولسو کلونو په دوران کې د زراعت، مالدارۍ او باغدارۍ په ټولو اسانتیاوو سمبال وای.

* د اوبو او برېښنا په برخه کې یې زمونږ پر سیندونو د برېښنا بندونه تړلي وای او د دښتو او شاړو مځکو د خړوبولو لپاره یې نهرونه او کانالونه جوړول..

* زمونږ د معارف او لوړو تحصیلاتو د رغولو لپاره یې داسې پروګرامونه ترلاس لاندې نیولي وای چې کولای یې شوی په دې برخې کې د تېرو درې و لسیزو تشې پرې ډکې شي.

* زمونږ د اردو له جوړیدو سره سم یې باید زمونږ د پوځ په واک کې هغه وسله ورکړی وای چې ددوی د راستنیدو پر مهال یې په ښه شان کولای شوای د خپل هېواد امنیت تأمین او له پولو نه دفاع وکړي، کله چې دوی راغلل په هماغه اوله مرحله کې یې زمونږ روغ ټانکونه او الوتکې تر بمبار لاندې ایرې ایرې کړې، نو لازم دا و چې همدوی باید موږ ته ټانکونه او الوتکې راکړي وای..

د نظامي او ملکي خدماتو په برخه کې یې باید داسې پروژې رانیستې وای چې زمونږ اولس ته په کې د کار داسې زمینې برابریدې چې ډیری ځوانان مو له جنګه لاس اخیستې وای او کار ته یې مخه کړی وای.

* زمونږ پلازمینه یې باید داسې رغولی وای چې واقعاً یې کولای شوی لږ تر لږه ددې ۴۵ هېوادونو د میزبانۍ جوګه دې.

* خپلو پانګه والو ته یې دستور ورکړي وای چې په افغانستان کې پانګونه وکړي او د راکړې ورکړې په مجال کې یې داسې سوداګریز تعاملات له مونږ سره خپلولی وای چې موږ د نورو له محتاجه خلاص وای او په میاشتو، میاشتو زمونږ د سوداګرو تجارتي مالونه د ماجراجو پاکستان په کراچۍ بندر کې په غیر قانوني بهانو بند نه وای پاتې..

* هغه مځکې چې زموږ د ګاونډیانو له خوا ددوی د خپلې خاورې جز ګرځول شوې وې، بېرته افغانستان ته مستردولې او داسې دفاعي معاهده یې د وخت له حکومت سره امضا کړی وای چې د دښمن د تعرض پرمهال زمونږ د هېواد په دفاع کې زمونږ له پوځ او امنیت سره اوږه په اوږه جنګیدلي وای..

* او بالاخره زمونږ د زراعت د عصري کولو په څنګ کې یې دلته داسې شرایط برابرولی چې زمونږ هېواد هم د صنعتي کېدو په لور ګړندي ګامونه اخیستلای وای.. خو دوی څه وکړل؟!

✍ نصرالله

چارواکي دې د ولس د رایو احترام وکړي

ټاکنې دې لپاره ترسره کېږي چې ولس پخپله خوښه د خپلو رایو د استعمال له لارې د هېواد ولسمشر وټاکي خو متأسفانه زورواکي په ځانګړې ډول حکومتي چارواکي د ولس په دغه روا حق هم ډاکه اچوي او نه پرېږدي چې د خپلې خوښې نتایج ترلاسه کړي. زموږ په هېواد کې له لومړۍ ورځې نه دا شکایت عام دی چې ارګ نشینو په ټاکنو کې د خپل منظور نظر کاندید په ګټه د درغلۍ لپاره پلانونه او منصوبې تیارې کړې دي، اټکل کېږي تر ولایتونو او ولسوالیو پورې داسې جال خپور کړای شوی چې په ټاکنو کې په پراخه کچه د یوه کاندید په ګټه لاسوهنې وکړي. پر ارګ نشینو دا نیوکې هم کېږي چې د زلمي رسول په کمپاین کې له حکومتي امکاناتو او وسایلو څخه کار اخیستل کېږي او په څرګند ډول د زلمي رسول په ګټه کمپاین کوي چې ښکاره بېلګه یې له زلمی رسول سره د قیوم کرزي یوځای کول دی.

د حکومت رسالت او مسؤولیت دا دی چې د قانون ساتنه وکړي او هر چېرته چې د قانون ماتونې عمل ترسره کېږي دهغه د مخنیوی لپاره جدي ګامونه پورته کړي او هېچاته اجازه ورنکړې چې د قانون پرخلاف کړنې ترسره کړي. همداراز په حکومتي وجایبو کې دا هم شامل دي چې قانون نه یوازې دا چې پر رعیت تطبیق کړي: بلکې له رعیت نه زیات یې پخپل ځان هم تطبیق کړي او داسې کومه تشه پرې نږدي چې رعیت ته هم د سرغړونې جرئت او خلا رامنځته کړي. په واقعي معنا قانون هله په ټولنه کې خپلې جرړې مضبوطولې شي چې تطبیق یې له حکومتي چارواکو نه پیل شي او ولس په سلو کې سل پدې خبره مطمئن کړي چې چارواکي یې په بشپړ ډول د قانون تر چتر لاندې حکومت کوي، خو که داسې نه وي او په هېواد کې د یو بام او دوه هوا قانون رائج وي، بیا نو قانون صرف په کتابونو کې بندوي او هر څوک د خپل زور په مطابق د خپلې خوښې پر قانون عمل کوي، زورواکان خپلو اهدافو ته رسېږي او کمزوري وګړي دهغوی د غلامۍ او منتی زنځیرونه پر غاړه ګرځوي.

د افغانستان وګړو چې څو لسیزه د اسلام د سرلوړي او د خپلو روا حقوقو د ترلاسه کولو لپاره له شلو لکو نه زیاتې ککرۍ نذرانه کړې دي یو لوی ارمان یې دا هم دی چې پخپله خوښه د رڼو ټاکنو له لارې یو منتخب اسلامي حکومت جوړ کړي او د دوی دا ارمان د اسلام د سپیڅلو حکمونو عین مطابق هم دی، خو دا چې ارګ نشین د افغانستان د مسلمان ولس په دې مسلم حق د ډاکې اچولو ناروا کوښښ کوي د ولس قهر او غوسه یې تر خطرناکه کچه راپارولی ده، نه ښیي دا نادیده ونیول شي. چارواکو ته پکار دي چې په ټاکنو کې له هر ډول لاسوهنې او مداخلو څخه په بشپړ ډول ډډه وکړي او داسې کومه کړنه ترسره نه کړي چې څوک وربانديې د ملامتی ګوته ونیسي.

د تېرو دیارلسو کلو راهیسې چې له ولس سره کومه درغلۍ او فساد شوی او دهغوی ملاوې ماتې کړې دي، په ټاکنو کې د نورو درغلیو د زغم حوصله قطعاً نه لري. نور باید د ملت د زغم امتحان وانخستل شي، په تېرو کلونو کې چې د فساد او د قانون د نه تطبیق له کبله د هېواد بنسټونو ته څومره تاوانونه رسیدلي دي دهغوی د جبران یواځنۍ لاره د رڼو ټاکنو له لارې د خلکو په خوښه د منتخب اسلامي حکومت قائمېدل دي، که الله مه کړه ددغې یواځنۍ قانوني لارې مخه هم ډب کړی شي او د یو تقلبي حکومت د جوړېدو هڅه وشي: نو له څه شک پرته به هېواد له ستر توپاني حالت سره مخامخ کېږي، یو ځل بیا به د هېواد په ګوټ ګوټ کې د ناامنۍ فضا حاکمېږي، او دغه ملت چې په نسبي ډول د امن په فضا کې ژوند تېروي د جنګ جګړو په سرو لمبو کې سوځېږي، پردیو مغرضو هېوادونو ته به نور هم پراخ فرصت ور په برخه کېږي چې د افغانستان کورنیو جګړو ته لمنه ووهي او بالاخره خپلو شومو اهدافو ته ورسېږي. په دې لړ کې ولسمشرۍ ته ولاړو نوماندانو ته هم پکار دی چې یوازې او یوازې پخپل ملت اعتماد وکړي ځکه چې هغوی لپاره تر ټولو لویه پانګه او ستر قوت پخپله ملت دی او یوازې هغه حکومت د خپل هېواد خدمت کولی شي چې د ملت له حقیقي ملاتړ نه برخمن وي، ځکه حقایق او واقعیتونه موږ ته دا رازده کوي چې اصل کمال حکومت ترلاسه کول نه: بلکې د ولس ملاتړ ترلاسه کول لوی کمال دی. هغو عناصرو چې صرف حکومت کړی او د ولس له ملاتړ ورسره نه وو، هغوی نه یوازې د خپل ولس د دردونو دوا شوي نه دي: بلکې په یو عالم کړاوونو کې هم راګیر شوي او خپل ټول توان او ملي شتمنې یې د خپل ولس پر غلې کولو او فشار لاندې راوستو کې مصرف کړی دی چې ښکاره بېلګې یې سوریه، اوکراین، مصر او ددې په څېر نور هېوادونه زموږ پر وړاندې دي او هلته له انساني تلفاتو او بدامنیو پرته بل هېڅ نه لیدل کېږي.

چارواکي دی دا امکان بالکل له نظره نه غورځوي چې که چېرته دوی هم په افغانستان کې له خپلې ځان غوښتنې او لویې غوښتنې له جنون نه لاس په سر نشي او په ټاکنو کې له لاسوهنو څخه په بشپړ ډول پرهیز ونکړي: ...

(۴ مخ)

د مصلحتونو قرباني شوی افغانستان

✍ محمد خلیل

ولسمشر حامد کرزي د شنبې په ورځ د ملي شورا شپاړسمې دورې د څلورم تقنیني کال د پیل پرمهال پخپل خطاب کې وویل:

د افغانستان مسلمان ولس چې د شوروي امریکا او انګلستان ته تسلیم شوی نه دی پاکستان ته به هم تسلیم نشي، هغه پخپل خطاب کې بهرنیو هېوادو او کړیو ته دا خبرداری هم ورکړ چې د افغانستان په ټاکنو کې دې لاس نه وهي، نوموړي زیاته کړه زه داسې افغانستان غواړم چې یو بچی یې هم نه د خپلو دلاسه او نه د پردیو لخوا تهدید شي.

دا هغه څه دي چې د افغانستان د مطلق اکثریت وګړو د زړه خبرې دي او هر یو همدا غواړي چې افغانستان تل خپلواک او پرخپلو پښو ولاړ عزتمن هېواد په توګه د نړۍ په نقشه کې خپل ځای ولري: خو افغانانان خپل دغه ارمان ته ځکه ندي رسیدلي چې دلته د څو لسیزو راهیسې سالم، زړه سواندي، زیرک، مهربان او له خپل ولس سره مینه لرونکي زعامت او مشرتابه ندی پیدا شوی.

د یو هېواد پرمختګ، استحکام، خپلواکي، ملي وحدت او پیاوړی اقتصاد هله یقیني کیدلای شي چې ایمانداره، دینداره، تقواداره، مهربانه او زړه سواندي چارواکي ولري، د خپل خدمت پرځای یې د ملت او خاورې خدمت ته ملاتړلې وي، د نیکو، پرهیزګارو، قانون خوښوونکو، بشر دوستو او د هېواد له خادمانو سره مینه لرونکي: مګر برعکس له قانون ماتوونکو، خاینانو، ظالمانو، فاحشو، غلو او داړه مارانو سره کلکه دښمني او کرکه درلودونکي وي: خو ډېر افسوس په افغانستان کې دا طلایي اصول تل تر پښو لاندې شوي. پخپله د کرزي صاحب په دوه لس کلنه موده کې په سلو کې سل له مصلحت پالنې نه کار اخیستل شوی چې پخپله ولسمشر کرزي هم تېر کال پخپلو خبرو کې خپله دا ګناه منلې او ویلي یې وو چې تراوسه ما له مصلحت نه کار اخستی: خو لدې وروسته به داسې نه کوم، لیکن ډېر افسوس چې تر ننه دا مصلحت پالنه جریان لري.

که د افغانستان پر تېر تاریخ نظر واچوو: نو دا به ترلاسه کړو چې دا ویاړ صرف او صرف د افغانستان مسلمان ولس ته حاصل دی چې هغوی ټول عمر د چا غلامي ته سرونه نه دي ټیټ کړي: خو چارواکو د خپلو غفلتونو او نه مسؤولیت پذیرۍ له کبله ټول عمر خپل ولس د پردیو غلامي ته یې ورسیخ کړې دی: خو دا جلا خبره ده چې د افغانستان مسلمان او غیرتي ولس د پردیو پر وړاندې د غلامۍ سر د ایښودلو پرځای د خپلو وینو په بیه خپل استقلال له لاسه نه دی ورکړی.

د کرزي صیب دغه خبرداری چې بهرني هېوادونه دی د افغانستان په ټاکنو کې لاسوهنې نه کوي د تېر په څېر تش خبرداری خو کیدلی شي، مګر ښایي هېڅ نتیجه له ځانه سره ونه لري ځکه چې یو چاته خبرداری او چلنج ورکول هله نتیجه ورکولی شي چې په متو کې دې زور او قوت هم وي، له زور او قوت پرته چاته خبرداری ورکول داسې دی لکه چې دچا سر ته یې چې بې کارتوسه تمانچه نیولې وي، بله دا چې په ټاکنو کې څومره لاسوهنې او مداخلې چې پخپله په افغانستان کې دننه لوړ پوړي چارواکي کوي شاید بهرنیو هېوادو ته د لاسوهنې دومره اړتیا پیدا نشي، ځکه چې دهغوی غوښتنې پخپله دغه لوړ پوړي چارواکي ترسره کوي، بهرني هېوادونه د افغانستان په ټاکنو کې تر هغه لاسوهنې نشي کولی تر څو پورې چې پخپله افغانان خصوصاً لوړ پوړي چارواکي هغو ته د لاسوهنې زمینه مساعده نه کړي، ټاکنو ته ولاړ شخصیتونه، د انتخاباتو د کمیسیون مشران، رأی اچوونکي او صندوقونو ته ولاړ څارونکي افسران ټول افغانان دي. که چېرته دوی ټول له خپل قانون، ولس او هېواد سره د مینې په احساس له هر ډول درغلۍ نه لاس په سر شي او په ازاده فضاً کې له تقلب پرته د انتخاباتو د ترسره کولو قوي عزم وکړي: نو بهرني هېوادونه په هېڅصورت د لاسوهنې مجال نشي پیدا کولې. کرزی صاحب دې پخپله ووایي چې هغه د رڼو ټاکنو په اړه څومره ژمن دی او د درغلیو د مخنیوی لپاره یې څومره کارونه ترسره کړي دي؟!

کرزي صاحب به له دوولسو کلو اوږدو تجربو نه دا حقیقت ترلاسه کړی وي چې یوازې له عذرونو، زاریو او خبرداریو هېڅ نه جوړېږي، که څه جوړیدای نو تراوسه به موږ د پردیو له لاسوهنو په امن کې وو او هېڅ ډول ستونزې به مو نه درلودې، دا چې د تېرو دوولسو کلو راهیسې زموږ چیغې او فریادونه چا وانه وریدل دا نو موږ ته دا واقعیت را په ګوته کوي چې نور باید خپل مسؤولیتونه پخپله وپېژنو او دهغه څه د کولو پریکړه وکړو چې مؤثره بڼه ولري او زموږ د حریمونو او د زمکنۍ بشپړتیا ضمانت راکوي، هغه دا چې په بشپړ قوت په هېواد کې ملي وحدت قایم کړی شي، له فساد نه پاک حکومت جوړ کړی شي، د مصلحت پالنې له ناوړه عمل نه لاس واخستل شي، کارونه اهل کار ته وسپارل شي، پخپله حکومت د رڼو ټاکنو لپاره مصمم واوسي، له هر ډول درغلیو او ډلبندیو څخه ځانونه وژغوري، چارواکي دولتي وسایل د کوم مشخص کاندید په ګټه استعمال نه کړي، ټولو ته په یوه سترګه وګوري او یوه ډول زمینه ورته برابره کړي: خو متأسفانه په دې کار کې ولس پخپله له کرزي صاحب نه مطمئن نه دی او دا نیوکه وربانديې کېږي چې هغه دخپل نظر وړ کاندید لپاره په دولتي وسایلو کمپاینونه کوي.

ولسمشر چې پخپله وینا کې د کومو خبرو ارمان وکړ، هغه پخپله دهغه د اقتدار په وخت کې هم ترسره کیدی شول: خو ترسره یې نه کړل، که هغه رښتیا اوس هم د ترسره کېدو ارمان لري: نو اوس هم ډېر څه کولای شي، له همدې نن نه دی بسم الله وکړي او په سملاسي توګه دی د رڼو ټاکنو لپاره له اخلاصه ډک جدي عادلانه ګامونه پورته کړي، تر څو د ملت په خوښه یو مستحکم حکومت جوړ او د ولس پر مټ د افغانانو د ارمانونو د تحقق لپاره کارونه پرمخ بوځي. یوازې د ولس د بشپړ اعتماد له لارې جوړ شوی حکومت کولی شي چې د ولس په قوي ملاتړ او مرسته د هېواد د استحکام بنسټونه غښتلي او د بهرنیو هېوادو د لاسوهنې مخه هم ډب کړي او د پرمختګ لارې هم طی کړي، بچي هم د هر چا له تهدید نه خلاص شي او راتلونکی نسل هم: خو که الله مکړه حالات همداسې روان وي او د عمل پرځای ګفتار ته، د سمون پرځای وراني ته او د قانون مندي پرځای لاقانونیت ته لاره هوارېږي: نو دا هسې یو خوب و خیال دی چې د حقیقت بڼه نشي خپلولې.

له ښاغلي کرزي صاحب نه د ولس غوښتنه داده چې که د خپل اقتدار په دې وروستیو شپو کې دې هم له مصلحت پالنې او ځان خوښونې پرځای د شفافو ټاکنو لپاره لاره هواره کړه او د خپل زعامت د ټاکلو حق دې په واقعي معنا ولس ته ورکړه: نو دا اقدام به دې ستا او ځوریدلو هېوادوالو د ارمانو د پوره کېدو لپاره یوه بنسټیزه ډېره ثابته شي. که نه، نو په راتلونکي وخت کې چې د افغانستان پر ولس هر مصیبت راځي لوی مسؤولیت به یې ستاسې پر غاړه وي.

شهادت اونیزه
د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

خپرونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه
د امتیاز خاوند: حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدیر: عبدالله "کامه وال"
مرستیال مدیر: عبدالخلیل (خلیل)

د اړیکو شمیرې
دفتر: ۰۲۰۲۵۲۱۲۳۲
مسؤول مدیر: ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱
مرستیال مدیر: ۰۷۷۲۲۷۵۷۸۳

• د شهادت اونیزه د هر لیکوال او د نظر خاوند د لیکنو هرکلی کوي.
• د شهادت اونیزه حق لري چې د لیکوال لیکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د لیکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي
• رالیږل شوې مطالب نه مستردیږي - یوازې سرلیکنه د شهادت د اونیزې رسمي نظر دی.

دیزاین: خواجه وحیدالله
آدرس: دحزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر، د شاداب ظفر بلاکونو شاته، خوشال خان مینه - کابل
Email Add: shahadatnews_kabul@yahoo.com

چارواکي دي د ولس د رايو ...

... نو دلته هم د هر څه د درهم او برهم کېدو مخه هېڅوک نشي نیولی او هغه څه به راپېښېږي چې اټکل یې هم نشي کېدلي ځکه چې ولس هېڅاته دا اجازه نه ورکوي چې دهغوی له رأیو سره لوبې وشي او دهغوی د خوښې کاندید د بریالي کېدو مخه ونیول شي. ښه به دا وي چې حکومتي چارواکي نه یوازې دا چې پخپله ټاکنو کې له هر ډول مداخلو څخه په کلکه ډډه وکړي؛ بلکې تر آخری توانه کوښښ وکړي چې د روڼو او شفافو ټاکنو د ترسره کولو لپاره داسې زمینه مساعده کړي چې د هر چا رأیه پرځای استعمال او هغه څوک د هېواد ولسمشر شي چې د ملت اکثریت رأیې یې ترلاسه کړې وي، تر څو راتلونکی حکومت د ولس له بشپړ ملاتړه برخمن او افغانستان په چټکی سره د امن او پرمختګ په لور ګامونه واخلي.

***

ولسي جرګه د لومړي ...

د ترلاسه کولو لپاره د ذکیه سنګین او عبدالروف ترمنځ ټاکنې دویم پړاو ته لاړې.

په دویم پړاو کې بیا هم ولسي جرګې د اداري پلاوي د بشپړاوي په برخه کې پاتې راغله. په دغه پړاو کې ګل پادشاه مجیدي د ۶۷ مثبتو رایو او غلام حسین ناصري د ۳۱ مثبتو رایو په ترلاسه کولو سره د مرستیالی د څوکی په ګټلو بریالي نه شول.

همداشان په دویم پړاو کې ذکیه سنګین ۳۱ مثبتې رایې او څارنوال ۷۰ مثبتې رایې وګټلې خو یوه هم د منشي توب د څوکی په ګټلـــو بریالي نه شول.

د ولسي جرګې رئیس عبدالروف ابراهیمي د غونډې په پای کې وویل، چې د اداري پلاوي یوه نوماند هم پنځوس جمعه یو رایې پوره نه کړې او ټاکنې دریم پړاو ته لاړې.

د ملي شورا د داخلي اصولو د قانون له مخې د هر کاري کال په پیل کې د ولسي جرګې مرستیال، منشي او د منشي مرستیال د جرګې د غړو له لوري ټاکل کیږي.

د ولسي جرګې د څلورم کال شپاړسمه کاري دوره درې ورځې وړاندې د یو شمیر دولتي چارواکو، بهرنیو میلمنو او د ولسمشرۍ د ځینو نوماندانو په حضور کې د ولسمشر کرزي له لوري پرانستل شوه.

جاپان بیش از ۱.۷ میلیون ...

حقوق بشر در ولایات کابل، ننګرهار کندهار، سمنګان، پنجشیر، بدخشان و میدان وردک بمصروف خواهد رسید.

تاکاهاشی علاوه نمود که با عملی شدن این پروژه ها، حدود یکصد هزار تن در بخش ضرورت های اساسی بشری چون محیط بهتر تعلیمی، پوشش وسیعتر مواظبت صحی، دسترسی بهتر به خدمات حیاتی، ساحات پاک شده از وجود ماینها، حراست از حقوق بشر و افزایش فعالیتهای اقتصادی مستفید میشوند.

بخشی ازین پول، در ساخت یک لابراتوار شفاخانهٔ صحت طفل اندراګاندی در کابل به مصرف میرسد.

نورالحق یوسفزی رییس این شفاخانه، از کمک بشردوستانه مردم جاپان ابراز قدردانی کرد و گفت که چندی قبل آنها بخاطر لابراتوار تشخیصیه به سفارت جاپان مقیم کابل پیشنهاد کردند و با این کمک بلاعوض جاپان، مشکلات شفاخانه از حیث لابراتوار رفع خواهد شد.

وی افزود که قرار است با عملی شدن این پروژه، سالانه دو هزار مریض درین لابراتوار، تشخیص و تداوی گردند.

سفارت جاپان میگوید که تحت همین پروګرام، ۹۱۸ پروژه با هزینهٔ مجموعی بیش از ۱۱۱ میلیون دالر امریکایی، از سال ۱۹۹۹ میلادی تا کنون، در افغانستان کمک شـــده است.

گفتنی است که دولت جاپان، از سال ۲۰۰۱ میلادی تا حال، بیش از پنج میلیارد دالر امریکایی را برای حمایت پروسهٔ بازسازی افغانستان مساعدت نموده است.

کریمیا له روسیې سره د ...

مسکو سره د یو ځای کیدو رسمي غوښتنه کړې ده او کریمیا خپله خپلواکمني اعلان کړه.

د دوشنبې په ورځ د کریمیا پارلمان له خوا په تائید شوي سند کې راغلي دي: "د کریمیا جمهوریت له ملګرو ملتونو او نړۍ له نورو هیوادونو څخه غوښتنه کوي چې کریمیا د یوه خپلواک دولت په توګه په رسمیت وپیژني."

دغه اعلامیه وړاندې کاږي: "د کریمیا پر خاوره باندې د اوکراین د دولتي ادارو فعالیتونه پای ته رسیږي او د هغوی واکونه، ملکیتونه او بودیجه د کریمیا دولتي ارګانونو ته انتقالیږي."

د روسي رسنیو د رپوټونو له مخې په پام کې ده چې د سه شنبې په ورځ د روسیې ولسمشر ولادیمیر پوتین، د پارلمان دواړو خونو ته د کریمیا د موضوع په اړه وینا وکړي.

د رویترز خبري آژانس د رپوټ له مخې د اوکراین پارلمان د جمهوري ریاست هغه یو فرمان منلی دی چې قسماً په راتلونکو دوو میاشتو کې د احتیاط سرتیري په دندو وګماري. د اوکراین د ملي امنیت او دفاع شورا سیکرتر اندرې پاروبایي د دوشنبې په ورځ ویلي دي د دغه پلان چې د احتیاط ۴۰ زره سرتیري به پکښې ګډون ولري موخه دا ده تر څو "د اوکراین په جنوب ختیځ سیمو کې د کریمیا سناریو یو ځل بیا تکرار نه شي."

روسي رسنیو په کریمیا کې د یکشنبې په ورځ د تر سره شوي ټولپوښتنې نتیجه ستایلې ده چې د اوکراین پر ځای یې له روسیې سره د یو ځای کیدو پریکړه کړې ده. د اوکراین مؤقتي حکومت له اروپایي ټولنې سره نژدې اړیکې لري.

د روسیې یوې مشهورې ورځپاڼې (کمسمولسکایا پراودا) لیکلي دي: "کریمیا بیرته روسیې ته راګرځي."

تر ۹۱۵۴م کاله پورې، د کریمیا نیمه ټاپو د روسیې تر واکمنۍ لاندې وو او تر هغې وروسته روسي چارواکو د دغه نیمه ټاپو واک اوکراین ته وسپاره. د لویدیځو هیوادونو د مشرانو له لوري د دغه ریفرنډم د پایلو ردولو ته په اشارې سره د Izvestiaنومې ورځپاڼې لیکلي دي: "ښایي د ځینو په دغه څه خوښ نه راځي، خو موږ پرې خوشاله یو."

په عین وخت کې د اروپایي ټولنې د بهرنیو چارو وزیران په بروکسل کې سره غونډه کوي، څو د روسي چارواکو پر ضد بندیزونه ولګوي که نه. په دغو بندیزونو کې د ویزو نه ورکول او د شتمنیو کنګلول شامل دي.

هلمند کې برتانوي پوځیان ...

دغو پوځي اډو تجهیزات یې د هلمند "کمپ باستین " اډې ته لیږدولي.

د تېر څو کلن پوځي ماموریت برتانیا افغانستان کې شاوخوا لس زره پوځیان لري، چې تر ډېره د هلمند په بېلابېلو سیمو کې مېشت وو، خو اوس یې شمېر کابو څلورو زرو ته راټیټ شوی دی.

هلمند د افغانستان په سوېل کې یو له ناامنه ولایتونو دی.

په داسې حال کې چې د بهرنیو ځواکونو د وتلو مهال وېش ته ورځې کمېږي، د ولسمشریزو او ولایتي شوراګانو ټاکنو ته هم د ګوتو په شمار ورځې پاتې دي.

ګڼ افغانان د ټاکنو پرمهال د ناامنیو له ډېرېدو ترهه لري، ځکه چې د حکومت مخالفو وسله والو ویلي، چې د ټاکنو بهیر به ګډوډ کړي.

په هلمند ولایت کې د ټاکنیز کمیسیون یوه سیمه ییز چارواکي بي بي سي ته ویلي، چې د راتلونکې وري پر ۱۶ د ټاکنو پرمهال به په دې ولایت کې د رای اچونو له ټول ټال ۲۱۹ مرکزونو ایله ۱۴۷ مرکزونه پرانیستي وي.

په افغانستان کې د ټاکنو لپاره ټول ټال ۶۷۷۵ مرکزونه پام کې نیول شوي، چې ۳۹۶ یې د امنیتي لاملونو له کبله تړلي پاتې دي.

امریکا و روسیه عمده ترین...

به نوشتهء آژانس خبری دی. پی. ای آلمان، ایالات متحدهء امریکا به حد اقل ۹۰ کشور جهان اسلحه به فروش رسانیده است که آسترالیا، کوریایی جنوبی و امارت متحدهء عرب بازار عمده آن بوده اند.

آژانس خبری دی. پی. ای آلمان از قول سیمون وزیمن (Siemon Wezeman) می نویسد که گفته است، با کاهش در بودجهء دفاعی ایالات متحدهء امریکا، بازار اسلحهء آن کشور بیشتر وابسته به صادرات خواهد شد و نظر به دلایل تجارتی و ستراتیژیک حکومت امریکا علاقمند ترویج صادرات اسلحه بوده، طیارات جنگی و سیستم های دفاع راکتی صادرات عمدهء ایالات متحدهء امریکا بوده است.

روسیه برای ۵۲ کشور جهان اسلحه صادر کرده، تهیه کنندهء عمده کشتی و طیارات برای هند، چین و الجزایر به شمار رفته، نصف صادرات اسلحهء روسیه به این کشورها بوده است.

جرمنی با صادرات ۷ درصد اسلحهء جهان در مقام سوم قرار داشته، کشورهای امریکا، یونان و اسراییل بازار عمدهء اسلحهء آلمان بوده است.

چین با صادرات ۶ درصد مقدار اسلحه در سطح جهان در مقام چهارم به جای فرانسه قرار گرفته، سه چهارم بخش صادرات اسلحهء چین به کشور های پاکستان و میانمار بوده است.

به گفتهء سیمون وزیمن (Siemon Wezeman) چین با علاقمندی به منابع طبیعی کشورهای افریقایی بازار صادرات اسلحه اش را به آنجا توسعه داده است.

توانایی چین در امر تولید وسایل پیشرفتهء تکنولوژیک باعث آن شد تا ترکیه که عضویت ناتو را دارد سیستم دفاع هوایی چین را انتخاب کند.

ونیزویلا در امریکایی لاتین عمده ترین وارد کننده اسلحه بوده است.

برازیل نیز واردات اسلحه اش را افزایش داده، از فرانسه تحت البحری و از سویدن طیارات جنگی را خریداری کرده است.

بر اساس تحقیقات انستیتوت سویدنی (SIPRI) الجزایر، سودان و مراکش عمده ترین وارد کننده گان اسلحه در افریقا بوده اند.